# پۀ پښتونخوا کښې د پښتو صحافت ارتقائي سفر
# د ډندورچي نه تر ننۍ سوشل مېډيا پورې تحقيقي او تنقيدي جايزه

**"The Evolutionary Journey of Pashto Journalism in Pakhtunkhwa:**

**A Research-Based and Critical Review from the Town Crier to Modern Social Media"**

**[1]TABASSUM YOUNAS**

**Abstract:**

The twentieth century is regarded as a *golden age* in the history of the Pashtuns. This is because, on the one hand, powerful political movements for freedom emerged in Pashtun regions during the second decade of the century; while on the other hand, Pashto literature, journalism, and politics became closely connected with the new intellectual traditions and global movements of the time. In this context, when we examine the evolution of Pashto journalism, we find that in an era when journalism was not recognized as a formal profession, people in rural areas relied on simple local methods of communication—represented in Pashto by the term "ډندورچي" (town crier)—to disseminate information. From these early practices to the subsequent development of newspapers and the press, followed by radio, television, and, ultimately, modern social media, various individuals and institutions contributed to this journey. This paper offers a general analytical overview of that evolutionary process.

**Keywords: Press, TV, Afghan, pakhtoon,paper, news**

انسان کۀ پۀ غر کښې پاتې شوے دے او کۀ پۀ غار کښې پاتې شوے دے خو چې د کله نه ئې پۀ خبرو او بيا د خبرو نه پس پۀ کرښه رابنکلو ګوته پورې کړې ده د نو د خپل شعور پۀ ارتقا کښې ئې دغه اضافه کړې ده چې د يو انسان يا د يوې ټولنې خبر به څنګه بلې ټولنې ته رسي ـ مونږ نن هم کۀ د قديم ډېرليکونو جاج واخلو نو پۀ يوه طريقه باندې خبر نورو انسانانو ته رسولے شوے دے ـ هم دغه رنګه پۀ جديد وخت کښې هم دغه ذريعه خپلېږي لکه د لانګ ډرايو پۀ دروان کښې د سړکونو پۀ غاړه باندې ساين بورډونو باندې مختلف نخښې ورکول چې (دا کار مۀ کوئ او دا کوئ) هم د هغه خبر رسائۍ ذريعه ده چې پخوانو انسانانو پۀ لارو کښې يا مختلف ځايونو کښې پۀ کاڼو کرښې رابنکلې وې ـ لکه ولډيورنټ چې وائي :

[1] : M.PHIL, Department of Journalism and Mass communication University of Peshawar

"In the ancient Babylonian and Sumerian world, the carving of a horn upon a stone or boundary was more than a mere sign: it declared that the place lay under the vigilant gaze of the king—or of the gods themselves—and thus no act of crime, nor any breach of moral order, could be committed there without inviting divine or royal reproof."[1]

**ترجمه: پۀ قدیم بابلي او سومیري نخښو کښې به چې چرته د ښکر نخښه جوړه شوې وه نو مطلب به ئې دا و چې دا علاقه د باچا یا دیوتا پۀ نظر کښې ده او دلته تاسو جرم یا غېر اخلاقي حرکات مۀ کوئ ۔**

**پۀ نړیواله توګه څوک د صحافت ابتدائي فرضیه راکاړي نو هم دغه به ئې ابتدائي شکلونه وي کوم چې د نن ډیجیټل دور پورې پۀ زرګونو کلونو باندې سفر لري ۔ ولې چې نن انسان د شعور پۀ کوم ډګر ولاړ دے د دې پۀ شا پۀ زرګونو او لکونو کلونه لګېدلي دي ۔ پۀ دغه ارتقا کښې چې څۀ ته صحافت وائي داسې نه ده چې اوسني جدید حالت دے کوم چې صرف پۀ سوونو کلونه ګوندې لري. پۀ دې حواله باندې احمد ابراهیم علوي لیکي چې:**

"صحافت کا آغاز انسانی تاریخ کے ابتدائی ادوار سے ہوا جب لوگ معلومات اور خبریں ایک دوسرے تک پہنچانے کے لیے سادہ ذرائع استعمال کرتے تھے۔ قدیم مصر، بابل اور سومر میں لوحوں، ڈبرلیکھوں اور مہر شدہ پیغامات کے ذریعے حکومتی احکامات، قوانین اور مذہبی ہدایات عوام تک پہنچائی جاتی تھیں"[2]

هر کله چې د پښتون وطن د خبریالۍ دغه ارتقائي سفر باندې نظر کوو نو طریقه کار به هم دغه و کومه چې پورته لیکنه کښې ذکر شو. خو بیا هم پۀ پښتنه ټولنه کښې د (استازي) یو قدر موجود دے کوم چې باقاعده د پښتونولۍ د نظام برخه پاتې شوې ده ۔ دغه (استازے) به پۀ هرمحله یوه یوې حجرې سره منسلک سړے و د غم او ښادۍ خبر به ئې د یو کلي نه بل کلي ته رسوۀ ۔ استازے پۀ اصل کښې خبر ته وائي کله به چې پۀ یو کلي کښې ښادي وه یا غم به وشو نو څنې مخصوص کسانو به نورو کلو ته د خبر ورکولو د پاره استازي ورل ۔ پۀ پښتو فولکلوري ادبیاتو کښې د استازي ذکر د ربېار سره هم منسلک دے چې خپله معنه ورکوي ۔ لکه دلته دا ټپه ده چې:

"جانان ته بیا ګاډے ولاړ دے
ربېا د غم استازے راوړ زړۀ مې چوینه"[3]

هم دغه رنګه د ډنډورچي اصطلاح هم پۀ پښتنو کښې ډېره عامه ده ۔ ډنډورچي پۀ اصل کښې (ډنډوره) خپرونکي ته وائي او (ډنډوره) هغه خبره وي چې پټه وي یا څرګنده شي او یا یو چا ته حکم وشي چې دا خبره خوره کړه نو حکم ورته داسې وشي چې دا خبره ډنډوره کړه یعني مشهوره ئې کړه ۔ او کله چې پۀ کلي کښې یوه خبره خوره شي نو مقصد ئې دا وي چې ډنډوره شوه ۔ ډنډوره لفظ پۀ سنسکرت، پښتو او څنې هندي ژبو کښې شریکه معنه لري ۔ پښتو ټپه کښې هم د دې باقاعده تذکره شته لکه دا ټپه چې :

"خبره لاړه ډنډوره شوه
جانانه خپل خیال دې ساته خپل به ساتمه"[4]

هم دغه رنګه اردو ریخته کښې ډنډوره ته دغه معني لیکلي شوې دي چې د پښتو سره سمون خوري "ڈھنڈورا

Dha.nDoraa•ढँडोरा
دھونسے کی قسم کا باجا، لیکن اس کی نسبت بہت چھوٹا اور ہلکا ہوتا ہے، جسے
آدمی آسانی سے گلے میں لٹکا کر بجا سکے
منادی، اعلان، تشہیر[5]"

د پښتنو صحافتي لړۍ هم پۀ دغه ډنډوره غږونکي يعنې ډنډورچي کښې څرګندې دي ولې هغه وخت داسې کوم الات يا نظام نۀ و چې باقاعده صحافت پۀ داسې طريقه ادا شوے وې لکه نن ـ پۀ پښتون وطن کښې کۀ به د جنګ، اشر، غوبل، زمکنے يا اسماني افت د پاره څوک خبرول کېدل نو هم دغه د ډنډورچي څخه به کار اخستے کېدو. اکثر ډنډورچيان داسې هم وو چې لوے ډول يا ډرم به ئې غاړه کښې و او کلي به ئې خبرول کوم چې د صحافت وړومبی باقاعده لړۍ ده ـ

اخباري يعنې د ورځپاڼو سفر:

پۀ نړۍ کښې د اخبار تاريخ ډېر قديم دے ـ ولې چې کله ليک ايجاد شوے دے او د ليک سره کاغذي، د څرمن ټوکرې او يا د ونو پۀ پټونو باندې ليکنې پېل شوې دي نو لازمي ده چې خبر رساني به هم د هغه ځايه شوې وې ـ پۀ دې لړ کښې ميا سهيل انشا دعوه لري چې :

"د دنيا وړومبے اخبار Acta Diurra Daily Acta د روم اخبار و چې پۀ 131 قبل مسيح کښې روان شوے و. هم دغه ر ايشيا وړومبے اخبار پۀ وړومبۍ عيسوي صدۍ کښې پۀ چين کښې جاري شوے و."[6]

هم دغه راقمې دخپلې اهم فل مقالې تر مخه سپينه کړې ده چې :

"The press has its roots in early communication forms like oral storytelling and manuscripts, evolving dramatically with Johannes Gutenberg's invention of the printing press in 1440. The printing revolution in early modern Europe.[7]"

ترجمه: د پريس جرړې د ډېر پخوا نه پۀ ټولنه کښې پۀ مواصلاتي نظام کښې موجودې وې، کومې چې زباني يا د قيصې او واقعاتو پۀ شکل مخ پۀ وړاندې تلې ـ د جوهانس ګټن برګ د پريس ايجاد 1440ء سره دا پۀ ډرامائي انداز کښې مخې ته راغے چې پۀ ماډرن يورپ کښې ورته مونږه د پريس انقلاب وئيلے شو.

هر څو کهٔ دنیا پهٔ دغه سفر کښې ډېره د پخوا نه راروانه ده خو پښتانهٔ د ژوند د نورو مېدانونو غونډې پهٔ صحافت کښې ډېره ورستو پاتې شوې ده ۔ ولې چې د یو اخبار سفر دوه زره کلونه مخکښې پهٔ دنیا کښې شوے دے پښتو دوه زره کلونه پس اخبار پېژندلے دے دا یقینا چې د پسماندګۍ خبره ده ۔
هر کله چې پښتو کښې د صحافت د ابتدائي نخښو درکونو پسې ګرځو نو پهٔ دې لړ کښې به دا ووایو چې دغه وخت د ایسټ اینډیا کمپنۍ پهٔ وجه باندې د هندوستان ځنې سیمو ته د پریس مشین رارسېدلے و د کومې پهٔ وجه باندې چې چاپ او مواد خورېدل اسان شوي وو۔ پهٔ دې لړ کښې کهٔ بیا وکتلې شي نو د اردو ژبې نه وړاندې د پښتو ځنې داسې مواد موجود دي چې هغې ته مونږه باقاعده د پښتو وړومبې صحافتي مواد وئیلې شو د کومې پهٔ حقله چې حبیب الله رفیع لیکي چې:

> "د سید احمد شهید الجهاد اخبار چې د پښتنو غازیانو پهٔ مرسته پهٔ کلکته کښې چاپېدو او د یاغستان سیمو ته رسېدو۔ دا دلیل ترمخه کوي چې دا اخبار د هند اردو اخبارونو څخه وړاندے چلېدلے دے"[8]

د الجهاد د چاپ کال ډاکټر سهیل انشاء د 1826 او 1834 ء مینځ کښې خوا وشا دورانیه ښائي ولې چې د سېد احمد شهید تحریک هم پهٔ دغه کلونو کښې چلېدلے دے ۔ هم دغه رنګه د پښتو د صحافت د ابتدا پهٔ حقله باندې ډاکټر حنیف خلیل لیکي چې :

> ''سید احمد شہید کی تحریک جہاد سے وابستہ الجہاد کے بعد پشتو صحافت کا باقاعدہ اغاز ہوا ہے، محقیقین اس پر متفق ہیں، کہ پشتو کا پہلا باقاعدہ اخبار 'افغان' ہے، ''[9]

هم دغه سلسله باقاعده روانه شوې ده چې تر دې دمه پهٔ پښتو کښې مختلف اخبارونه او ادبي او صحافتي مجلې خورې شوې دي ۔ هم دغه رنګه چې پرله پسې کوم اخبارونه او مجلې چاپ دي د هغې ترتیب پهٔ دا رنګ دے ۔ دغه ترتیب ما عمومي توګه دلته راواخستو ولې چې د اختصار څخه کار اخستل غواړم ۔ هم دغه رنګه دا مذکوره لیسټ د پروفیسر انعام د (هسټري او اف ژورنالېزم) نه اخذ شوے دے ۔

| اخبار/مجله نوم | کال | اشاعت (فریکوینسي) | ایډیټر/وتلې څېرې | د خپرېدو ځاے |
|---|---|---|---|---|
| افغان | 1905 | اونیزه | مهدي علي شاه د چارسدې | پېښور |
| سرحد | 1924 | میاشتنی | الله بخش یوسفي | پېښور |
| افغان | 1925 | اونیزه | میان ازاد ګل (ایډیټر) | مردان |
| پښتون | 1928 | میاشتنی | باچا خان بابا (بنسټګر) | چارسده |
| انګار | 1930 | اونیزه | امیر نواز جالیا د اتمانزو چارسده | پېښور |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سیلاب | 1931 | اونیزه | صنوبر حسین، محمد کاکا جي (بنسټګران) | پېښور |
| وحدت | 1976 | ورځنۍ | پیر سفید شاه (د ۱۹ فبروری نه خپرېدل پیل) | پېښور |
| همدرد | 1929 | اونیزه | خان میر هلالي (بنسټګر) | افغانستان |
| وطن | N/A | اونیزه | محمد نواز ختک (بنسټګر) | N/A |
| هېواد | 1958 | اونیزه | سلطان محمد صابر (د ۲۷ اکتوبر ۱۹۵۸ نه پیل) | کوټه |
| بانګ حرم | 1957 | اونیزه | ماستر خان ګل (۲۴ جولای ۱۹۵۷ پیل، ۲۲ مي ۱۹۵۹ ورځني ته بدل شو) | پېښور |
| پښتون پوسټ | 2010 | ورځنۍ | اشرف دار (دسمبر ۲۰۱۰ څخه پیل) | پېښور |
| میدان | 1998 | ورځنۍ | رحمت شاه آفریدی (د ۲۵ دسمبر ۱۹۹۸ څخه خپرېدل پیل) | پېښور |

کهٔ چرې پهٔ یوویشتمه صدۍ کښې او موجوده وخت کښې دغه جاج ته نظر وشي نو پهٔ دې کښې پښتون مجله، وحدت اخبار، لیکوال مجله، پاڅون مجله هغه خپروني دي چې پهٔ باقاعدګۍ سره چلېږي ولې پهٔ دې لړ کښې ډېر اخبارونه او رسالې د مختلفو وجوهاتو پهٔ وجه باندې بندې شوې دي .

رېډیائي صحافت :

د پریس او چاپخاني نه پس چې صحافت کښې کوم انقلابي رنګونه لیدلي کېږي هغه د رېډیو ایجاد و چې د ټیلګراف د لارې د اواز د رسولو یوه تجربه کامیابه شوه او هم دغسې باقاعده د صحافت لاره ئې خپله کړه . یو خوا پرې د سرکاري واکدارانو تقریرونه پیغامونه خپرېدل شروع شول نو بلخوا پرې هغه پیغامونه د (خبرونو) پهٔ شکل کښې خورېدل شروع شو کوم چې به د کاغذ پهٔ ذریعه باندې مختلفو سیمو ته رسېدل . پهٔ دې حواله باندې نعیم اختر چکوال لیکي چې:

> "دنیا میں ریڈیو نشریات کا ابتدائی دور بیسویں صدی کے آغاز سے تعلق رکھتا ہے۔ پہلی باقاعدہ ریڈیو نشریات 24 دسمبر 1906ء کو کینیڈین انجینئر ریجینالڈ فسینڈن نے پیش کیں، جن میں موسیقی، تلاوت اور خطاب شامل تھے۔ یہ نشریات انسانی آواز کے بےسیم ذریعے سے سفر کی ایک تاریخی کامیابی تھیں۔ اگرچہ شروع میں ریڈیو تجرباتی مرحلے میں تھا، تاہم خبروں کی باقاعدہ نشریات کا آغاز

1920ء کی دہائی میں ہوا۔ 1920ء میں امریکہ کے KDKA ریڈیو اسٹیشن نے دنیا کا پہلا باقاعدہ نیوز بلیٹن نشر کیا۔ 2 نومبر 1920ء کو انہوں نے امریکی صدارتی انتخابات کے نتائج براہِ راست نشر کیے، جو دراصل ریڈیو صحافت کی بنیاد رکھنے کا پہلا عملی قدم تھا۔‘‘[10]

پښتو صحافت کښې رېډيو مهم کردار لوبولے دے ـ ولې چې کله پۀ دنيا کښې رېډيو پۀ تېزئ سره خپرېدل شروع کړل نو انګرېزي استعمار غوښتل چې خپل سرکاري اعلانات او بيانونه هم د رېډيو د لارې د پروپېګنډې پۀ شکل کښې د هندوستان مختلفو قامونو ته ورسولې شي ـ پۀ دې لړ کښې پۀ 1935 ء کښې ال انډيا رېډيو پرانسته وشوه د کومې يوه څانګه چې پېښور ته هم راوړلې شوه ـ دغه رنګه د هوا پۀ چپو باندې هم دغه اعلانات، خبرونه، واقعات خپرېدل شروع شول ـ هم دغه رېډيو باندې پښتو صحافت باقاعده د پرنټ نه اليکټرانک ته بنه واړوله ـ هر کله چې د هندوستان وېش وشو نو د رېډيو پاکستان دغه څانګه پۀ پېښور کښې پاتې شوه کومه چې رېډيو پاکستان پېښور بللې کېږي ـ دې څانګې تر ننه پورې پښتو صحافت کښې تر ټولو زيات کردارلوبولے دے ـ هم دغه رنګه د رېډيوپاکستان سره سم د د افغانستان ملي رېډيو هم خپل مهم کردار ادا کړےد کومې نشريات چې پۀ 1920ء کښې شروع شوي وو خو د هند د تقسيم نه پس د دې پرېکونسي باقاعده دپښتونخوا هغه سيمو ته راغزېدلي وه کومې چې د ډېورنډ پۀ کرښه اباد دي او دغسې د صحافت لړئ پرې چلېدلې ده ـ

هر کله چې افغانستان کښې د سور انقلاب رونما شو نو پۀ دې لړ کښې امريکائي استعمار غوښتل چې د خپلو رېډيوګانو د لارې پښتنو سيمو ته خپل صحافتي کار وغزوي او د دغې پۀ شا خپل سياسي ګټې هم ترلاسه کړي۔ پۀ دې پس منظر کښې پۀ اول ځل باندې پښتون وطن ته دغه رېډيوګان راغلل ـ

1. بي بي سي پښتو (BBC Pashto) 1981ء
2. **ډيوې رېډيو(VOA Deewa / VOA Pashto)**
3. **ازادي رېډيو(Radio Free Europe / Radio Azadi)**
4. **رېډيو مشال(Radio Mashaal)**
5. **رېډيو مارک(Radio Mark)**

دا هغه بهرنۍ رېډيائي چېنلونه دي چې باقاعده پښتو کښې ئې خپلې صحافتي خپرونې ترسره کړي دي ـ هم دغه رنګه د ناين اليون نه پس چې پۀ پښتونخوا کښې د ايف ايم کښې پرېکونسۍ پرانستې شوې دي هغې هم پۀ پښتو صحافت کښې مهم کار ترسره کړے دے ـ چې پکښې دلبر رېډيو صوابۍ، چارسده، ابېټ اباد، پښتونخوا رېډيو پېښور، مردان، چارسده، باجوړ، تيمرګره د يادولو وړ چېنلونه دي ـ

ټي وي او صحافت :

**انسان کۀ پۀ رڼو ابو کښې خپل مخ ليدلے دے نو ډېر پخوا ئې ائنه دريافت کړې ده ـ هم دغه رنګه د خپل سيورې د ټګ و دو د پاره ئې د ټيلي وژن پام ذهن ته راغلے دے ـ هسې خو پۀ ټيلي وژن باندې د ډېر پخوا نه تجربې کېدې خو پۀ اول ځل باندې د د دې کاميابه تجربه پۀ 1925 کښې پۀ نيويارک امريکه کښې**

**وشوه . هم دغه سلسل وه چې په 1930 کښې امریکه کښې باقاعده د ټي وي د سټېشن پرانسته وشوه . دغه رنګه دغه د شیشې عکسونه ورستو په 1953 کښې رنګین شول او نن چې څومره هم د ایل سي ډي، ایل اي ډي ماډرن شکلونه دي ټول د دغه ارتقا نه تېر شوي دي . د پښتو ټي وي د صحافت په حواله محمد عمران اشنا لیکي چې :**

> **” پاکستان ټیلي وژن په 1994ء کښې خپلي خپروني د پاکستان په لویو ښارونو لکه کراچی ، لاهور او پېښور کښې شروع کړې د کومې سره چې پاکستان ټیلي وژن پېښور څانګه هم په وجود کښې راغله . د هرې یوې ژبې د ادب، کلتور، او صحافت د پاره وختونه مقرر وو. هم دغه رنګه د نورو ژبو سره په پښتو کښې ورومبي خبرونه هم 1966 کښې باقاعده وړاندې شو. “11**

**د پاکستان ټېلي وژن صحافتي کردار هم دغه و چې عالمي، ملکي او علاقائي خبرونه به په پښتو کښې خپرېدل او دغه رنګه په خاص وخت کښې به اولس خصوصي توګه باندې ته ناست وو. هم دغه رنګه چې کله د ډیش انټینه راتګ وشو نو پاکستان کښې د پښتو خپرونو د پاره مختلف چېنلې پرانستي شوې چې په دې رنګ دي .**

1. اے وي ټي خېبر
2. خېبر نیوز
3. پشتو ون
4. مشرق (پشتو)

تر دې دمه دغه چېنلونه داسې دي چې پښتوکښې ئې باقاعده صحافتي هلې ځلې کړې دي . باقاعده په تحصیلونو کچ باندې ئې خپل نمائندګان هم ساتلي دي او دغه رنګه د صحافت دغه لړی په پښتو کښې ترسره شوې ده .

ډیجیټل دور:

دا دور د انټرنیټ هغه دور دے چې انساني یا کائناتي تاریخ ئې په باقاعده توګه د یو انقلاب سره مخ کړے دے . د انټرنیټ د لارې په باقاعده توګه باندې هر اېمېل لرونکي ته اجازت شته چې هغه خپل چېنل د سوشل میډیا په هر پلېټ پارم باندې جوړ کړي او صحافتي لاره خپله کړي . هر څو کۀ د صحافت د پاره خپل کوم اصول او بیا په رسمي توګه د پوهنتونونو په کچه باندې اداري موجودې دي چرته نه چې په صحافت کښې د ماسټر، ایم فل او پي ایچ ډي ډګري حاصلېږي . ولې د ډیجټل دور دغه هر څۀ بې معنې کړې دي . نن په پښتو کښې په سلګونو کسان داسې هم موجود دي چې مایک ئې لاس ته کړے د خپل موبایل سکرین ته مخامخ ولاړ وي او خبر رسائي کوي . هم دغه رنګه د دنیا هر لوے او وړوکے چېنل یا صحافتي اداره په انلاین بڼه باندې اسانه شوې ده . ځکه د انټر نیټ راتلو سره د پرنټ، رېډیو او ټي وي اهمیت هغسې نۀ دے پاتي شوے .

دا د پښتونخوا وطن تر دې دمه پوره د صحافت هغه ارتقائي سفر و چې په عمومي جاج کښې وړاندې شو. د دې سفر په شا باندې ډېرو مشرانو سترې کړې دي چرته چا په قلم ليکل کړي دي چرته چا يو يو اخبار کور کور ته لېږلے او چرته چا په ګنټو ريکارډنګ کړے دے . ولې نن د سوشل مېډيا اپيونو دغه سفر دې ځاے ته رارسولے مخکښې به ګورو چې پوست اے ائي به کومه رسنۍ په کوم شکل کښې موجوده وي .

Pukhtunkhwa Journal

## حوالې

---

1 : Durant, W, *The Story of Civilization: Vol. I – Our Oriental Heritage*. New York: Simon and Schuster. . (1935).P-184

2 : احمد ابراهیم علوي، اردو صحافت کا جائزه، فکشن هاوس لاهور، ۲۰۰۱، ص ۹

3 : نور محمد نوري، پښتو لنډۍ نن او پرون، مهمند خپروندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۹، مخ ۵۹

4 : سلمی شاهین، روهي سندرې، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۶، مخ ۸۹

5 : https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-dhandoraa-1?lang=ur

6 : میا سهیل انشاء، د پښتو صحافت سرسري جاج، کتابکور پریس پېښور، ۲۰۲۴، مخ ۲۱

7 :Tabassum Younas, The Evolution of Pashto Language press in Pakistan, , MPhil Research, UOP. 2025, P-1

8 : حبیب الله رفیع، پښتو صحافتي لړئ، مشموله شپږ میاشتنۍ کابل، علومو اکادمي کابل، ۲۰۰۶، مخ ۵۹

9 : حنیف خلیل، پشتو زبان و ادب کی تاریخ، یونیورسٹی بک پبلشر، ۲۰۰۹، مخ ۵۸۰

10 : نعیم اختر چکوال، اوازکي دنیا، حرم پبلیکیشن لاهور، ۲۰۰۸، ص ۲۵

11 : محمد عمران، پهٔ پښتو صحافتي ادب د ناین الیون اثرات، د ایم فل ناچاپ مقاله، ۲۰۲۳، مخ ۷۲